د افغانستان اسلامي امارت

**د چارو اداري لوی ریاست**

د لاربنوونو او حکمونو د تعقیب ریاست

نېټه: ۱۴۴۷-۳-۲۷   ګڼه: ۵۲۳۲

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د ا.ا.ا د ریاست الوزراء محترم اقتصادي معاونیت ته!**

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

**موضوع: د ا.ا.ا د ریاست الوزراء محترم مقام د ۱۴۴۷/۳/۲۳ نېټې (۲۰۰۲) ګڼه حکم ابلاغ**

د ښاروالیو چارو د سمون محترم لوی ریاست د ۱۴۴۷/۳/۱۱ نېټې (۲۴۵) ګڼه لیک په ترڅ کې د سرپل ولایت د ښاروالۍ اړوند ځمکه کې د شکرالله کریمي ودانیز شرکت له خوا د یو سوداګریز مارکیټ جوړولو طرحه وړاندې کړې ده، چې د ا.ا.ا د ریاست الوزراء محترم مقام یې په اړه داسې فرمایلي دي:

**"وکتل شو! وړاندیز شوی غوراوی تائید دی."**

وړاندیز شوی غوراوی: "د سرپل ولایت ښاروالۍ اړوند ملکیت کې د شکرالله کریمي ودانیز شرکت له لوري سوداګریز مارکیټ جوړولو طرحه دې د نورو کړنو لپاره د اقتصادي معاونیت د پانګونې بین الوزارتي کمېټې ته راجع شي."

له دې لیک سره یو ځای مو یاد حکم او اړوند اسناد په (۱۵) پاڼو کې تاسو ته ولېږل، هیله ده چې د ا.ا.ا د ریاست الوزراء محترم مقام د پورته ګڼه حکم سره سم اجراات تر سره کړئ. والسلام.

**شیخ الحدیث نور الحق انور**

**د ا.ا.ا د چارو اداري لوی رئیس**

کاپي:

- د ښاروالیو چارو د سمون محترم لوی ریاست؛
- د امارت د پالیسي معاونیت د پانګونې اسانتیا محترم ریاست؛ او
- د حکمونو او فرمانونو د ثبت محترم امریت ته.

پته: د افغانستان اسلامي امارت د چارو اداري لوی ریاست، مرمرینه ماڼۍ، کابل ـ افغانستان   Website: www.aop.gov.af   Tel: 0202143367